مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱٥٦** (از ۸ الی ۱۵ حوت ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه........ ۲

## د کابل-بیجینګ پراخېدونکې نظامي اړیکې

- ملي وحدت حکومت او افغان-چین اړیکې........ ۴
- کابل ته د چین د لوی درستیز سفر........ ۴
- چین او روسیه؛ د اشرف غني د تروریزم ضد جګړې سیمه‌ییز لوبغاړي........ ۵

## بحران مهاجرین افغان در اروپا و کشورهای همسایه

- مهاجرت به کشورهای صنعتی........ ۸
- مهاجرین افغان در کشو های همسایه........ ۹
- اهمیت قضیۀ مهاجرین افغان........ ۹
- سال ۲۰۱۵ و مهاجرت افغان‌ها به اروپا........ ۱۰
- موقف حکومت افغانستان........ ۱۱

## مقدمه

تېره اوونۍ د چین جګپوړي پوځي چارواکی د یوه پلاوي په مشرۍ کابل ته راغی. په اوسني وخت کې او د سیمې او افغانستان وضعیت ته په کتلو سره دا سفر ارزښتناک و. ولسمشر اشرف غني له واک ته رسېدو وروسته، له چین سره پر اړیکو تمرکز زیات کړ او داسې برېښي چې ورو ورو د افغانستان په قضیه کې د چین لېوالتیا هم په زیاتېدو ده. دلته د ملي وحدت حکومت له رامنځته کېدو وروسته د افغانستان او چین د اړیکو او په ځانګړي ډول د چین د لوی درستیز د وروستي سفر په اړه شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې، په اروپایي او ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو د بحران په اړه لولئ. له څه مودې راهیسې یو ځل بیا په ګاونډیو هېوادونو، په تېره پاکستان کې د افغان کډوالو وضعیت خراب شوی. په پاکستان کې د کابل-اسلاماباد د مخکېني تفاهم له مخې، د کډوالو د پخوانیو کارتونو موده نه ده غځول شوې او ناراجستر کډوالو ته هم کارتونه نه دي ورکړل شوي او په دې توګه د پولیسو له خوا ځورول کېږي.

له بلې خوا په اروپایي هېوادونو کې هم لسګونه زره افغانان په خورا ناوړه وضعیت کې د قبلېدو په تمه شپې ورځې سبا کوي او یا هم په خطرناکو سیمو کې بند پاتې دي. ډېری اروپایي هېوادونو خپلې پولې هم تړلې، چې ډېری زیان یې افغان کډوالو ته رسېدلی. همدا لامل دی چې یو زیات شمېر افغانان بېرته د هېواد په لور راروان دي.

په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د ځانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# د کابل-بیجینګ پراخېدونکې نظامي اړیکې



د چین لوی درستیز جنرال "فانګ فنګ هوی" په یوه نااعلان شوي سفر کابل ته راغی او له افغان ولسمشر، اجرائیه رییس او د ملي امنیت له سلاکار سره یې ملاقاتونه درلودل.

له ولسمشرۍ ماڼۍ څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې ښاغلي فانګ فنګ هوی له ولسمشر اشرف غني سره په کتنه کې، له افغانستان سره په نظامي برخه کې د ۴۸۰ مېلیونه چینایي ین (شاوخوا ۷۳ مېلیونه ډالرو) د مرستې ژمنه وکړه او د "ترهګرۍ" پرضد یې د پاکستان-افغانستان-چین-تاجکستان د ګډې مبارزې طرحه هم وړاندې وکړه.

په افغانستان کې د چین د لوی درستیز له دغه سفر څخه پراخ هرکلی وشو. دغه سفر خپله د دې ښکارندوی دی، چې له تېرو کلونو راهیسې په تدریجي توګه د افغانستان په لور د چین لېوالتیا زیاتېږي.

دا چې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو وروسته د افغانستان او چین اړیکې په کوم لوري دي، د چین د لوی درستیز سفر به په نظامي برخه کې پر افغانستان څه اغېزې ولري او د چین د لوی درستیز په دغه سفر کې کومې مهمې خبرې وشوې؟ دلته پرې شننه کوو.

## ملي وحدت حکومت او افغان-چین اړیکې

د ملي وحدت حکومت له جوړېدو سره د افغانستان او چین ترمنځ د لوړپوړو چارواکو سفرونه زیات شوي او په دې توګه کابل له بیجینګ سره په ډیپلوماتیک ډګر کې د تېر په پرتله ډېر نژدې شوی دی.

ولسمشر اشرف غني په خپل لومړني سفر چین ته ولاړ او چین ورسره د ۳۲۹ میلیون ډالرو مرستې ژمنه وکړه. له دغه سفر سره، د افغانستان د سولې په قضیه کې د چین رول هم د عمل ډګر ته راوکښل شو. د ولسمشر له سفر وروسته، د افغانستان اجرائیه رییس د کورنیو چارو، دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو هم چین ته سفرونه وکړل. په دې لړ کې د چین لهخوا افغانستان ته، د چین د بهرنیو چارو وزیر، د کابینې یو شمېر نورو وزیرانو، مرستیال ولسمشر او د چین لوی درستیز رسمي سفرونه کړي دي.

چین د افغانستان د سولې په قضیه کې، لومړی د قطر دفتر غړی قاري دین محمد چین ته راوغوښت، ورپسې د ارومچي ناستې کوربه شو، د مري په مخامخ خبرو کې یې د څارونکي رول درلود؛ خو په څلور اړخیزو خبرو اترو کې یې رول تر پخوا ډېر زیات شو.

په نظامي او امنیتي ډګر کې هم د افغانستان او چین اړیکې د تېر په پرتله پیاوړې دي. په دغه دوره کې د امنیت په تړاو څو تفاهمنامې لاسلیک شوې، چې له مخې به یې چین د افغانستان پولیس او سرحدي ځواکونه وروزي، په کابل کې به د امنیت لپاره دروازې ودروي او اوس یې هم تقریباً د ۷۳ میلیون ډالرو مرستې ژمنه کړې ده.

## کابل ته د چین د لوی درستیز سفر

د چین لوی درستیز جنرال فانګ فنګ هوی د ۲۰۱٦ کال د فبرورۍ پر ۲۹مه افغانستان ته په نااعلان شوي یو ورځني سفر راغی او له لوړ پوړو افغان چارواکو سره یې ولیدل. په دغه سفر کې د چین لوی درستیز نه یوازې دا چې له افغانستان سره د ۷۳ ملیون ډالرو مرستې ژمنه وکړه، بلکې د تروریزم پرضد د چین-پاکستان-افغانستان-تاجکستان د ګډې مبارزې طرحه یې هم وړاندې کړه او ترڅنګ یې دا هم وویل، چې چین به د تروریزم پرضد د افغان ولسمشر طرحې په اړه، په راتلونکي اوړي کې یو نړیوال کنفرانس هم جوړ کړي.

د چین لوی درستیز افغانستان ته داسې مهال سفر کوي، چې په سیمه کې د «یوې لارې یوې کړۍ» او «چین-پاکستان اقتصادي دهلیز» د بیجینګ دوه اساسي اقتصاد محوره پالیسۍ هم د عملي کېدو په درشل کې دي.

همدا راز افغانستان د سیمې په جیو-ستراتیژیکې او جیو-اقتصادي تقاطع کې پروت دی. بیجینګ پوهېږي، چې که په افغانستان کې وسله‌والې ډلې واک ته ورسېږي او یا پیاوړې شي، نو دغه وضعیت به د دوی امنیت هم اغېزمن کړي؛ ځکه افغانستان د چین له یوه داسې ولایت سره ۹۰ کیلومتره پوله لري، چې په بېلابېلو وختونو کې یې چینایانو ته سرخوږی جوړ کړی دی.

له همدې ځایه ده، چې اوس په افغانستان کې امنیت او ثبات چین ته د نورو وختونو په پرتله ډېر ارزښت لري؛ ځکه افغانستان یې د دوو مهمو اقتصادي پروژو (یوه کړۍ، یوه کربنه او چین-پاکستان اقتصادي حوزه) ترمنځ پروت دی او په افغانستان کې ناامنۍ د چین ددغو دوو پروژو ترڅنګ د چین سینکیانګ ایالت (شرقي ترکستان) هم اغېزمنولای شي.

همدغه خبره بیجینګ هم درک کړې او اوس غواړي له افغانستان سره نظامي مرستې وکړي، د تروروزم پرضد له یوه داسې درېیو هېوادونو (تاجکستان-افغانستان-پاکستان) سره ګډه همکاري وکړي، چې د دغو دوو اقتصادي پروژو امنیت یې تامین او سینکیانګ ایالت یې خوندي کړي!

## چین او روسیه؛ د اشرف غني د تروریزم ضد جګړې سیمه‌ییز لوبغاړي

ملي وحدت حکومت له پیله هڅه کړې، چې له ناټو او امریکا پرته له سیمه‌ییزو هېوادونو سره اړیکې ښې کړي. په همدې موخه کابل د چین ترڅنګ د روسیې د پاملرنې زیاتولو په اړه هم ډیپلوماسي فعاله کړې. د افغانستان د ولسمشر لومړي معاون جنرال عبدالرشید دوستم روسیې ته سفر وکړ او د تروریزم پرضد یې د نظامي او تکنالوژیکي مرستو غوښتنه وکړه، وروسته د پارلمان غړو هم روسیې ته سفر وکړ او د ورته مرستو غوښتنې یې وکړې. همدا راز افغان حکومت له روسیې څخه د ایم آی ۳۵ الوتکو د اخیستو وړاندیز هم وکړ.

د افغانستان د دفاع، کورنیو چارو او د بهرنیو چارو وزیرانو د سفرونو پرمهال هم ورته غوښتنې وشوې او اوس د چین د لوی درستیز د سفر پرمهال هم د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حنیف اتمر، د افغان هوایي ځواک د

پیاوړي کولو غوښتنه وکړه. د اجرائیه ریاست د یوې سرچینې له مخې، چین له افغانستانه د نظامي مرستو د لېست غوښتنه هم کړې ده.

داسې برېښي، چې ملي وحدت حکومت غواړي د نظامي، اقتصادي، تخنیکي مرستو او د "تروریزم" پرضد د نړیوالو ایتلافي ځواکونو ترڅنګ د سیمه‌ییزو هېوادونو ملاتړ هم راجلب کړي. دا چې کابل به تر کومه ځایه په خپله دغه پالیسۍ کې بریالی شي، وخت به یې ځواب کړي.

# بحران مهاجرین افغان در اروپا و کشورهای همسایه



کشورهای اروپایی تدابیر شدید امنیتی در سرحدات خویش، به منظور جلوگیری از ورود پناهجویان غیر قانونی به خاک این کشورها، را اتخاذ کرده‌اند و پناهجویان افغان عمده‌ترین قربانیان در سرحدات اروپا هستند. بحران پناهجویی در اروپا سبب شده تا شماری از کشورها تحت فشار قرار بگیرند و میان پناهجویانی که به اروپا رفته‌اند، تفاوت قایل شوند. به همین دلیل، به پناهجویان سوریه و عراق اولویت داده می‌شود.

از همین جاست که در ۲۴ فبروری ۲۰۱٦ حدود ۱۳۵ تن پناهجوی افغان بگونه‌ی داوطلبانه در یک پرواز اختصاصی از جرمنی به افغانستان برگشتند[1] و بر اساس ارقام سفارت افغانستان در آلمان، حدود ۱۰۰۰ پناهجوی دیگر نیز درخواست بازگشت داوطلبانه به افغانستان داده‌اند. این‌ها کسانی اند که درخواست پناهنده‌گی شان از سوی آلمان پذیرفته نشده است.

بر اساس گزارش "لاس انجلس تایمز" روزنامۀ مشهور امریکایی، یک سوم پناهجویانی که به اروپا رفته اند، افغان‌ها تشکیل می‌دهند و حداقل ۵۰۰۰ پناهجوی افغان در اثر تدابیر شدید سرحدی در مرزهای یونان و مقدونیه گیر مانده‌اند.

---

[1] برای جزئیات بیشتر، گزارش وزارت مهاجرین افغانستان:
http://morr.gov.af/fa/news/59580

از سوی دیگر، پاکستان بر اساس توافقنامه‌ی که با افغانستان امضاء کرده بود، باید به آنعده از مهاجرین افغان که هنوز راجستر نگردیده، کارت‌های مهاجرت توزیع می‌نمود و نیز میعاد کارت‌های کسانی که قبلاً راجستر گردیده‌اند، تمدید می‌نمود. ولی این کار تا هنوز صورت نگرفته است. به همین دلیل، پولیس ایالت خیبر پشتونخواه، ٦٠٠ مهاجر افغان را به دلیل نداشتن اسناد قانونی بازداشت کرده‌اند.

چگونگی مراحل روند مهاجرت افغان‌ها به اروپا، موقف کنونی حکومت افغانستان در قبال مهاجرین، چگونگی وضعیت مهاجرین افغان در اروپا و کشورهای همسایه و سرنوشت آیندهٔ آن‌ها، موضوعاتی اند که در این بخش تحلیل به آن پرداخته شده است.

## مهاجرت به کشورهای صنعتی

افغان‌ها تاریخ طولانی مهاجرت دارند و مهاجرت‌های آریایی‌ها گواه این تاریخ می‌باشند. ولی در تاریخ معاصر، روند مهاجرت افغان‌ها به کشورهای صنعتی[2] و کشورهای همسایه، به دنبال کودتای کمونیستی هفت ثور ۱۳۵۷ و حملهٔ شوروی بر افغانستان، آغاز گردید.

در سال ۱۹۸۲ تعداد مهاجرین افغان در کشورهای صنعتی به ۲۰۲۲ تن می‌رسید و این تعداد همه‌ساله افزایش می‌یافت که بالآخره در سال ۱۹۸۹ شمار مهاجرین افغان در کشورهای صنعتی به ٦۵۵۳ تن رسید.

با خروج نیروهای شوروی از افغانستان، جنگ داخلی در کشور آغاز گردید که از لحاظ اقتصای نیز ضربه شدیدی را متحمل گردید. به این ترتیب روند مهاجرت افغان‌ها به کشورهای صنعتی سرعت گرفت. از زمان خروج شوروی از افغانستان الی سال ۲۰۰۱ میلادی تعداد مهاجرین افغان در کشورهای صنعتی بر ۵۴٦۲۰ تن بالغ گردید. قابل یادآوری است که این‌ها تنها کسانی بودند که در کشورهای مذکور به آنها تابعیت داده نشده و به حیث پناهنده شناخته می‌شدند. در این مرحله شمار زیادی از افغان‌ها به دلیل مشکلات اقتصادی و سیاسی به اروپا مهاجرت نمودند که بیشتر آن‌ها تابعیت آن کشورها را نیز اخذ نمودند.

با آغاز حملهٔ امریکا بر افغانستان، تعداد مهاجرین افغان در کشورهای صنعتی بار دیگر روبه افزایش نهاد و در سال ۲۰۰۲ شمار مهاجرین افغان در این کشورها، به ۱۵۲۴٦٦ تن رسید. اما پس از سال ۲۰۰۲ الی ۲۰۰۷ تعداد مهاجرین

[2] اتحادیهٔ اروپا، استرالیا، جاپان، انگلستان و امریکا شامل کشورهای صنعی جهان اند.

افغان در کشورهای صنعتی کاهش یافت و در سال ۲۰۰۷ این رقم به ۱۰۴۵۵۹ تن رسید. از سال ۲۰۰۸ به این‌سو به دلیل نا امنی‌ها و مشکلات اقتصادی در کشور، تعداد مهاجرین افغان در کشورهای صنعتی جهان همه‌ساله افزایش یافت و تنها در سال ۲۰۱۵ بیش از ۲۵۰ هزار افغان در کشورهای اروپایی درخواست پناهنده‌گی داده‌اند.

## مهاجرین افغان در کشورهای همسایه

روند مهاجرت گروهی افغان‌ها به کشورهای همسایه نیز پس از کودتای ثور آغاز گردید و با اشغال افغانستان توسط شوروی، تعداد مهاجرین افغان در کشورهای همسایه به اوج خود رسید. پس از موافقتنامۀ ۱۹۸۸ ژنیو، روند بازگشت مهاجرین به افغانستان آغاز گردید.

در زمان جنگ‌های داخلی نیز تعدادی از افغان‌ها به پاکستان مهاجرت نمودند، اما پس از سال ۲۰۰۱ به صورت گروهی به افغانستان برگشتند که تا حال حدود ۵.۸ ملیون مهاجر افغان از کشورهای همسایه به کشور برگشته اند و بیش از پنج ملیون افغان هنوز هم در کشورهای همسایه مهاجر اند.

در سال ۲۰۱۵ کشورهای ایران و پاکستان توافق کردند که مهاجرین افغان را اخراج اجباری نخواهند کرد. هر دو کشور همچنان توافق کردند تا مهاجرینی که راجستر نشده‌اند، راجستر خواهند کرد. ولی تا هنوز مهاجرین افغان در این کشورها راجستر نگردیده‌اند و میعاد کارت‌های مهاجرت آن‌ها در پاکستان نیز تمدید نگردیده است.

## اهمیت قضیۀ مهاجرین افغان

بربنیاد ارقام غیر رسمی شمار مهاجرین افغان در کشورهای همسایه به ۵.۵ ملیون تن می‌رسد که از این جمله ۱.۴ میلیون مهاجر راجستر شده و حدود دو ملیون مهاجر ناراجستر تنها در پاکستان زنده‌گی می‌کنند. در ایران نیز حدود یک ملیون مهاجر راجستر شده و حدود دو ملیون مهاجر ناراجستر زنده‌گی می‌کنند. در کشورهای صنعتی نیز ده‌ها هزار افغان قبلاً در مهاجرت به سر می‌برند و بیش از ۲۵۰ هزار افغان در ۲۰۱۵ به اروپا رسیده‌اند.

در کنار این، حدود یک ملیون بی‌جا شده‌گان داخلی و هزار ان مهاجر وزیرستانی در داخل افغانستان نیز وجود دارند. مجموع همین ارقام، یک پنجم نفوس افغانستان را تشکیل می‌دهد. بنابراین، قضیۀ مهاجرین با در نظر داشت ابعاد انسانی، حقوقی، سیاسی، امنیتی و اقتصادی آن برای حکومت افغانستان، در کنار قضیۀ صلح و امنیت، یکی از قضایای مهم به شمار می‌رود.

## سال ۲۰۱۵ و مهاجرت افغان‌ها به اروپا

بر بنیاد آمار سازمان بین‌المللی مهاجرت، از ماه جنوری ۲۰۱۵ الی ۲۷ جنوری ۲۰۱٦ حدود ۱.۱۰۳۴۹٦ ملیون تن از راه‌های غیر قانونی به اروپا رسیده‌اند و پس از سوری‌ها تعداد بیشتر آن‌ها را افغان‌ها تشکیل می‌دهد.[3]

بر اساس آمار اتحادیهٔ اروپا، تا اکنون ۹۴۲۴۰۰ تن در خواست پناهنده‌گی در کشورهای اروپایی داده‌اند.[4] وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان افغانستان در مورد شمار افغان‌های که در سال ۲۰۱۵ به اروپا رفته اند، می‌گوید: «در سال ۲۰۱۵ بیش از ۲۵۰ هزار افغان در ۴۴ کشور جهان درخواست پناهنده‌گی داده‌اند و از این میان ۱۵۰ هزار تن به آلمان رفته‌اند».

اگر ارقام پناهجویان افغان را که در سه سال گذشته از راه‌های غیر قانونی به اروپا رفته اند، مطالعه نماییم درمی‌یابیم که تعداد افغان‌های راهی اروپا افزایش بی‌سابقه داشته است. بربنیاد یک تحقیق اتحادیهٔ اروپا، در سال ۲۰۱۳ حدود ٢٦٢١۵ افغان در کشورهای اروپایی درخواست پناهنده‌گی داده بودند و این تعداد در سال ۲۰۱۴ به ۴۱۳۷۰ تن و در سال ۲۰۱۵ به ۲۵۰ هزار تن افزایش یافت.[5]

سفر این پناهجویان به اروپا به آسانی نبوده بلکه آن‌ها دل به دریا زده و این سفر به قیمت جان عدهٔ از آنها تمام شده است. در راه رفتن به اروپا، حدود ۴ هزار تن در دریای مدیترانه غرق گردیده‌اند. بر اساس معلومات سخنگوی وزارت مهاجرین افغانستان، ٪۲۰ کسانی را که در دریای مدیترانه غرق شدند افغان‌ها تشکیل می‌دهد که تخمینا ۸۰۰ تن می‌شود.

در سال ۲۰۱۵ صدها هزار تن به دلیل شرایط بد امنیتی از سوریه، افغانستان، عراق و کشورهای افریقای شمالی و افریقای مرکزی به اروپا مهاجرت نمودند و به این ترتیب بحران مهاجرت در اروپا ایجاد گردید. به همین دلیل، اکنون کشورهای اروپایی تلاش دارند تا مهاجرینی که به خاطر اهداف اقتصادی به اروپا رفته اند، به کشورهای شان بازگردانند.

---

[3] برای جزئیات بیشتر به گزارش "آی او ایم" در لینک زیر مراجعه نمایید:
http://www.iom.int/sites/default/files/situation_reports/file/europe-mediterranean-migration-crisis-response-situation-report-28-january-2016.pdf

[4] گزارش بی بی سی انگلیسی در این مورد را در اینجا بخوانید:
http://www.bbc.com/news/world-europe-34131911

[5] جزئیات گزارش تحقیقی اتحادیهٔ اروپا:
http://ec.europa.eu/eurostat/statistics-explained/index.php/File:Countries_of_origin_of_(nonEU)_asylum_seekers_in_the_EU-28_Member_States,_2013_and_2014_YB15_III.png

شماری از کشورهای اروپایی مانند آلمان، پناهجویان افغان را پناهجویان اقتصادی می‌پندارند. از همین‌رو انگلا میرکل نخست وزیر آلمان چندی پیش گفته بود که گفتگوها را با حکومت افغانستان در مورد برگشت آنعده پناهجویان افغان که درخواست پناهنده‌گی آن‌ها در آلمان رد گردیده، آغاز نموده است.[6]

تامس دیمیریز وزیر امور داخلۀ آلمان نیز، که طی یک سفر رسمی به کابل آمده بود، گفت که با حکومت افغانستان در مورد بازگشت افغان‌هایی که درخواست پناهنده‌گی آن‌ها از طرف آلمان رد شده، به توافق رسیده است. او همچنان گفت که پناهجویان افغان "پناهنده" شمرده نمی‌شوند، زیرا وضعیت در افغانستان به صورت نسبی خوب بوده و جاهای مصئون در افغانستان موجود است.

## موقف حکومت افغانستان

در کل موقف رسمی حکومت افغانستان در قبال مهاجرین افغان در کشورهای همسایه طوری است که مهاجرین ناراجستر راجستر شوند و مهاجرینی که کارت‌های مهاجرت این کشورها را دارند، مدت این کارت‌ها تمدید گردد تا با آزار و اذیت پولیس روبه‌رو نشوند.

هرچند کشورهای همسایه با این راه‌کار حکومت افغانستان توافق کرده، ولی هیچ اقدام عملی در این راستا از سوی این کشورها دیده نشده و مهاجرین افغان با مشکلات زیادی در این کشورها دست و پنجه نرم می‌کنند. به گونۀ مثال، پولیس پاکستان هفتۀ گذشته طی عملیات تصفیوی در ایالت خیبر پشتونخوا ۱۱۰۰ تن را به اتهام "تروریزم" دستگیر نمودند که از این جمله ٦٠٠ تن آن‌ها افغان بودند.

به همین ترتیب مهاجرینی که تا هنوز راجستر نشده‌اند، به دلیل نداشتن اسناد قانونی و راجستر نبودن، با مشکلات فراوان روبرو هستند. با راجستر شدن مهاجرین، در عرصه‌های مختلف مانند سهولت‌های آموزش و تعلیم و تربیه، کار و خدمات صحی مشکلات آن‌ها تا حد زیادی از بین می‌رود.

اما موقف حکومت افغانستان در قبال مهاجرین افغان مقیم در اروپا متذبذب بوده و در این مورد ریاست جمهوری یک نظر و وزارت امور مهاجرین نظر دیگری داشتند.

---

[6] جزئیات بیشتر در لینک زیر:
https://www.tolonews.com/en/afghanistan/22065-berlin-kabul-start-talks-on-repatriation-of-afghans-merkel

وزیر امور مهاجرین و عودت کننده‌گان افغانستان در مصاحبه‌ای گفت: «ما همیشه از کشورهای میزبان مهاجرین در اروپا خواسته ایم تا با در نظرداشت وضعیت در افغانستان در مورد قضایای شخصی پناهنده‌گی پناهجویان تصمیم بگیرند. ما با هیچ کشوری هیچگونه قراردادی را مبنی بر بازگشت اجباری مهاجرین افغان امضاء نکردیم. تنها کسانی را که داوطلبانه آمادهٔ برگشت به کشور هستند، تحت نظر داریم».[7]

از آنجاییکه هر پناهجو برای رفتن به اروپا از راه‌های قاچاقی، به طور اوسط ۵ الی ۸ هزار دالر امریکایی می‌پردازد (که تنها در سال ۲۰۱۵ مجموعاً ۱.۲۵ الی ۲ میلیارد دالر می‌شود)، هرگونه توافق مبنی بر برگشت اجباری پناهجویان به افغانستان، به مشکلات حکومت افغانستان خواهد افزود.

از همین‌رو وزارت امور مهاجرین موقف خود را در قبال پناهجویان افغان در اروپا روشن ساخته و تاکید می‌ورزد که با وجود سخت‌گیری و تغییر در سیاست‌های کشورهای اروپایی در قبال پناهجویان، این وزارت با هیچ کشوری هیچگونه موافقتنامه‌ای مبنی بر بازگشت اجباری پناهجویان افغان امضاء نخواهد کرد[8] و در پنج حالت اگر کشورهای مقصد، پناهجویان افغان را به صورت اجبار اخراج کنند برای افغانستان قابل قبول نخواهد بود:

**اول:** کودکان زیر سن قانونی یعنی ۱۸ سال. **دوم:** معیوبین. **سوم:** خانواده‌های که فرد سرپرست شان قبولی کشور میزبان را از قبل به دست آورده باشد. **چهارم:** خانواده‌های که سرپرست آنان زنان می‌باشند. **پنجم:** خانواده‌های بی‌سرپرست.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: (+93) 784089590

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.

[7] see online: http://www.dw.com/en/afghanistans-minister-of-refugees-no-agreement-on-taking-back-deportees-from-germany/a-19020715

[8] See online: http://www.etilaatroz.com/33616